پښې وېناوې:
امام ابو حنیفه رحمه الله:
له نېکو خلکو سره مینه او له
بدو خلکو سره ګذاره کوه!

طلوع افغان

نبوي مرغلري:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:
ژباړه: چاچي په سمه طريقه اودس
وکړ، ګناهونه يې د بدن څخه وځي،
تر دې اندازې چې د نوکانو له
ببخونو يې هم وځي.
﴿رواه المسلم﴾

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"
د امتياز څښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست
په اوونۍ کي دوه واره چاپيږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، پنجشنبه ۲۴/ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۷ هـ ق، ۲۱/غويی/۱۴۰۵ ل کال – ګڼه (۱۰)
Monday-11-May-2026 Issue: 10

د مطالبو سرليکونه

د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

د انارګل دوديزه مشاعره؛
د شاعرانو، آديبانو، قلموالو او ترنم ويونکو ګړ محفل!

په کندهار کي د انارګل مشاعره؛ د آديبانو، شاعرانو، ليکوالانو، فرهنګپالو، د آدب د مينه والو او همدارنګه د ښو آواز لرونکو او مشهورو ترنم ويونکو له لوري، په ډېرو شاندارو مراسمو تر سره سوه.

د انارګل مشاعره چې د تېرو څو کلونو راهيسي په منظم او دوامدار ډول لمانځل کيږي، دا وار يې د تېر په څېر ښکلا زياته وه، چې د ښه نظم ترڅنګ، د انارګل مشاعرې تر عنوان لاندي يوه ټولګه چاپ او د آدب د مينه والو او همداراز د مشاعرې ځانګړو ګډونوالو ته د ډالۍ په ډول ورکړل سوه.

يادي مشاعرې ته د کندهار ولايت د لوړپوړو مسئولينو ترڅنګ، د اطلاعات او فرهنګ وزارت وزير، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزير او د هيواد د يو شمېر ولايتونو ګڼ شمېر خوږژبو ترانه ويونکو او شاعرانو ته بلنه ورکول سوې او همداراز زرونو عامو خلکو ګډون په کښې کړی و.

د انارګل مشاعرې مخينه؛ د کندهار له آدبي، فرهنګي او کرهنيز ژوند سره عميقه اړيکه لري، ياده مشاعره په کندهار کي د انارو د ګلونو پر وخت جوړيږي، ځکه کندهار وړاندي لا د افغانستان د انارو د ښار په نامه يادېدی.

د ځينو روايتونو له مخي د انارګل مشاعره، د شلمي پېړۍ په وروستيو لسيزو کي په منظم ډول پيل سوه، چې هغه مهال کندهار د پښتو آدب يو مهم مرکز و او د هغه وخت آدبي ټولنو غوښتل چې د کندهاري انارو د شهرت ترڅنګ، يو فرهنګي هويت هم پياوړی کړي.

په مشاعره کي د اطلاعات او فرهنګ وزير په خپله وينا کي وويل، شاعران مکلفيت لري چې د اسلامي نظام د دفاع له پاره شعرونه وليکي او په خپلو شعرونو کي هغو عواملو ته اشاره وکړي چې د نظام د بقا، استحکام او ثبات لامل ګرځي او په شعرونو کي بايد يوې خاصي سيمي، قوم يا ډلي ته خدمت و نه سي، بلکي لوړو ملي او اسلامي مصالحو ته لومړيتوب ورکړل سي.

د اطلاعات او فرهنګ وزير د مشاعرې د ښه تنظيم له امله، د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست هڅي وستايلې او د ياد رياست د رهبرۍ څخه يې ځانګړې مننه وکړه چې داسي شانداره او پر تمينه آدبي غونډه يې جوړه کړې ده.

په ياد مشاعره کي کندهار والي لومړی د هيواد د بېلابېلو ولايتونو څخه راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست ووايه او ويې ويل، اوسنۍ راټولېدني او غونډې د خير او خوښۍ له پاره کيږي او د الله تعالی په فضل د څه باندي څلورو لسيزو ستونزې حل سوې، چې شکر يې بايد ادا کړل سي.

د اسلامي امارت مشرتابه او لوړپوړي مسئولين هڅه کوي، چې د داسي آدبي غونډو له لاري آديبان، شاعران، ليکوالان، فرهنګپال او د آدب مينه وال، پر يوه ټغر راټول کړي او هغه منفي تبليغات، چې مخالفين يې د نظام پر ضد کوي، مخه يې ونيسي. اداره

په کندهار کي د انارګل دوديزه مشاعره په شانداره ډول تر سره سوه



د انارګل مشاعره د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست په هڅو، د غازي محمد ايوب خان په لوبغالي کي جوړه سوې وه، چې په کښې د اطلاعات او فرهنګ وزارت وزير الحاج شيخ شېراحمد حقاني، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزير الحاج ملا محمد فاضل مظلوم، د چاپېريال ساتني اداري مرستيال مولوي سعدالدين سعيد، د کندهار والي حاجي ملا صاحب، د کندهار امنيه قوماندان مولوي عبدالاحد طالب، رئيس صاحبانو، شيوخو او علماء کرامو، نامتو ليکوال او شاعر حافظ انس حقاني، د ترنم رئيس مولوي امان الله مستغفر، مشهور ترانه ويونکي الحاج ملا فقير محمد درويش، شاعر اکرام الدين مفتون او د هيواد له بېلابېلو ولايتونو ډګڼ شمېر خوږژبو ترانه ويونکو او شاعرانو ترڅنګ، زرونو خلکو ګډون کړی و.

مشاعره د قرآن عظيم الشان د مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل سوه، تر څو شعرونو ويلو وروسته د اطلاعات او فرهنګ وزير وينا وکړه او ويې ويل، شاعران مکلفيت لري چې د اسلامي نظام د دفاع له پاره شعرونه وليکي او په خپلو شعرونو کي هغو عواملو ته اشاره وکړي چې د نظام د بقا، استحکام او ثبات لامل ګرځي. ۴مخ

د افغانستان او قره‌قالپاقستان ترمنځ ۱۳ سوداګريز تړونونه لاسليک سول



د څه باندي ۱۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت، دافغانستان او قره‌قالپاقستان د خصوصي سکټورونو ترمنځ، ۱۳ سوداګريز تړونونه لاسليک سول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبريال د خبر له مخي، دغه تړونونه د دواړو هيوادونو د خصوصي سکټورونو د استازو تر هراړخيزو خبرو او بحثونو وروسته، تېره شپه په کابل کي د تجارتي تواصل او سوداګريزو غونډو کنفرانس په پای کي، د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزير نورالدين عزيزي او د ازبکستان د قره‌قالپاقستان جمهوريت د عالي مجلس د رئيس امان بای اورين بايوف په حضور کي لاسليک سول.

د يادوني وړ ده چې ياد تړونونه داوړو فابريکي جوړولو، داوړو، سمينټو، غوړي او مکروني د وارداتو او همدا رنګه د منو، انارو، کچالو او زيرې د صادراتو په ګډون په ۱۳ برخو کي لاسليک سوي دي.

په لومړي وار د سترګو د جراحي عملياتو خونه پرانيستل سوه



د کندهار پوهنتون د رهبرۍ په هڅو او د لوړو زده کړو وزارت په مالي همکارۍ، د ياد پوهنتون اړوند، په مستشفی عمر تدريسي روغتون کي د روغتيايي خدماتو د پراختيا او د تخصصي درملني د پياوړتيا په موخه، د سترګو د جراحي عملياتو عصري خونه پرانيستل سو.

د ياد روغتون ډاکترانو ويلي، د دې خوني په فعالېدو سره به، د سترګو بېلابېل جراحي عمليات په معياري او پرمختللي ډول کېږي او د سترګو ناروغانو ته به د ښه او باکيفيته ۴مخ

د افغانستان په ځنګلونو کي ۳۵ سلنه زياتوالی راغلی دی



په ۱۴۰۴ل کال کي د ځنګلونو د پوښښ ساحې، د ۱۳۹۰ل کال په پرتله، ۴۲۷ زره هکتاره زياتي سوي، يعني ۳۵ سلنه زياتوالي په کښي راغلی دی.

په ۱۴۰۴ل کال کي د افغانستان د ځنګلونو تر پوښښ لاندي ساحې شاوخوا ۱.۶ میلیونه هکتاره دي، چې د افغانستان د ټولي خاوري ۲.۵۴ سلنه جوړوي. همدا راز د ځنګلونو او بوټو ټوليزه ساحه شاوخوا ۳,۳ میلیونه هکتاره ده چې د هيواد د ټولي خاوري ۵.۰۶ سلنه جوړوي. ۴مخ

په تېره مياشت کي ناروغانو ته ۳۵ زره سي سي وينه ورسول سوه



د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست په هڅو، ناروغانو ته ۳۵ زره سي سي وينه ورسول سوه.

د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، د ځوانانو چارو آمريت مسئولينو ويلي، د تېري يوې مياشتي په ترڅ کي يې، د ښار په دولتي او شخصي روغتونونو کي د بې وزلو، بې وسه او د ويني د کمښت ناروغانو له پاره شاوخوا ۳۵ زره سي سي وينه برابره کړې او رسولې ده.

د مسئولينو په قول، د ويني رسوني په دغه رضاکارانه کمپاين کي د ياد آمريت له لوري ۷۰ تنه ځوانان، د ويني ورکولو له پاره بېلابېلو ۴مخ

له کندهاره د حاجيانو لومړنۍ الوتني تر سره سوې



د کندهار د ارشاد، حج او اوقاف رياست وياند عبدالرازق عمري ويلي، د ياد ولايت څخه د ۱۴۴۷ هـ ق کال د حج فريضې د ادا کولو په موخه، د حاجيانو د انتقال الوتني پيل سوي دي.

د هغه په خبره، په لومړيو دوو الوتنو کي ۶۹۲ تنه د روزګان او زابل ولايتونو حاجيان، د جدې له لاري مکې مکرمې ته انتقال سوي دي.

د يادوني وړ ده، چې روان کال به له کندهار زونه ۸۰۷۳ د حاجيان د بيت الله شريفي زيارت او د حج مبارکي فريضې د ادا کولو په موخه مکې مکرمې ته انتقال سي.

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمد رح) ژباړه: مولوي محمد اکبر ۴۱ برخه

پيغام يې ور ولېږی، نو مينځه راووتله او و يې ويل: که مسئلې پوښتې، نو پر يو کاغذ يې وليکئ، هغوی به تاسو ته جواب وليکي، د مديني منورې امير وويل:

د يوې اړتيا پر اساس، د مکې امير خط رالېږلی دی.

مينځې خبره واورېدله، کور ته ولاړه، لږ وروسته امام مالک صاحب راووتی، د مديني منورې امير د مکې مکرمې د امير خط ورکړ.

امام صاحب خط لوستل پيل کړل، کله چې د واسطې يا سپارښت عبارت ته ورسېدی، نو ويې ويل:

سبحان الله! د رسول الله صلی الله عليه وسلم علم به په واسطه يا سپارښت ترلاسه کېږي!

د مديني امير چې دا خبري واورېدلې، هيڅ خبره يې و نه سوای کړای، کله چې ماشوم دا کيفيت محسوس کړ، نو ماشوم د خپل ځان په اړه يو څه وويل. امام صاحب چې د ده خبري واورېدلې، نو ويې پوښتل:

ستا نوم څه دی؟

زما نوم محمد دی!

نو اوس امام مالک وويل: محمده! د الله جل جلاله څخه وېرېږه، د ګناوو څخه ځان وساته، ځکه تاسو به په راتلونکي کې ډېر حيثيت لرونکي سی، صحيح ده، سر د سبا څخه راځه، مګر له خپل ځان سره داسي کس راوله چې تاته مؤطا ووايي.

زه مؤطا خپله لوستلای سم!

امام مالک حيران سو، مؤطا يې ځنې واورېدله او په خپلو ځانګړو شاګردانو کې يې شامل کړ، دا ماشوم وروسته په امام شافعي سره مشهور سو، نوم يې محمد بن ادريس، هاشمي د ور نيکه نوم يې شافع و، چې په همدې خاطر شافعي ورته وويل سول.

پلار يې د ده تر پيدايښت وړاندي وفات سوی و، د مور نوم يې فاطمه بنت عبدالله بن حسن بن حسن بن علي بن ابي طالب و يعني نومړې د حضرت علي رضی الله عنه د کورنۍ څخه و، نومړی په ۱۵۰ هجري کې په شام کې د غزې په ښار کې پيدا سو (غزه چې د غزې د تراډي په نامه هم يادېږي، چې د تېر کال ۷ د اکتوبر څخه د نړۍ کفارو د دې امر کړی دی، چې يا به وځي يا به وژل کېږي.)

په دوه کلنۍ کې مکې ته راوستل سو، د امام صاحب مور وايي: د شافعي د پيدا کېدو وخت نژدې و، چې ما خوب وليدی، چې د مشتري ستوری زما د جسم څخه ووځي او په مصر کې ولوېږي، بيا د هغه رڼا هر ښار ته ورسېږي.

د خوبونو تعبير کوونکي چې دا خوب واورېدی، و يې ويل: د دې ښځي په نس کې يو ماشوم دی، چې علم به يې د مصر په ټولو ښارونو کې خپور سي، په کوچنيوالي کې د غشي ويشتلو او د آس سپرلۍ شوقي و، په هغه وخت کې يې په لسو کې لس سره نښې صحيح لګېدلې، بيا چې کله د علم شوق شروع سو، نو شپه ورځ به په لوست بوخت و، د تعليم يا زده کړې پيل يې د مکې مکرمې څخه وسو، تر دې وروسته يې په مدينه منوره کې علم ترلاسه کړ، په عربي شعر کې يې هم مهارت ترلاسه کړ، د خپل اکا محمد بن شافع او مسلم بن خالد زنجي څخه يې حديث واورېدل او زده کړل.

د امام مالک تر اجازې وروسته، دی په درس کې شريک سو، په ديني علومو کې تر مهارت وروسته، تر ټولو مخکې راغی، اوس دی مشهور سوی و، په هغه وخت کې د يمن امير مکې معظمې ته راغلی و، امام صاحب وايي، د قريشو غټو - غټو سردارانو د يمن امير ته وويل:

امام شافعي يمن ته بوزئ!

د يمن امير د امام شافعي رحمه الله څخه غوښتنه وکړه، چې تاسو يمن ته راسئ، نومړي موافقه وکړه، د سفر له پاره تيار سو، نو له مور سره يې د ده د سفر خرڅ نه و، نو مجبوراً يې د خپلې مور يو پوړنی په شپاړس ديناره ګرو کړ او په سفر روان سو.

نور بيا...

د لوی اختر فلسفه؛ ارزښت او لمانځل!

مولوي نورالحق "مظهري"
دوهمه او وروستۍ برخه

- د اختر په ورځو کې دې د غير شرعي او ناروا رواجونو څخه ځان وساتي، ځيني داسي مراسم سته چې نه يوازي دا چې جايز نه دي او فايده نه لري، بلکي شرعًا حرام او ناروا دي، لکه: د موسيقۍ محفل جوړول، د شراب څښلو او ورقو کولو مجلس جوړول او دې ته ورته نور محفلونه چې ځيني د دين څخه ناخبره خلک يې په دې مبارکو ورځو کي جوړوي.

همدا راز په دې ورځو کې ځيني خلک فاتحه نيسي چې دا کار هم شرعًا نه دی روا، ځکه دا ورځې د مصيبت له پاره نه، بلکي د خوشحالۍ له پاره دي.

- لکه په نورو ورځو کې چې مسلمان لمونځ په جماعت سره کوي، د اختر په ورځو کې هم بايد مسلمان لمونځ په جماعت سره وکړي او په دې پلمه چې د اختر ورځ ده او زما مصروفيتونه ډېر دي، د جماعت پرېښوول ورته نه روا کېږي.

- په ځينو سيمو کې داسي رواج دی چې تر اختر مخکي د هر چا مړی سوی وي، هغه دغه اختر نه لمانځي، نوي کالي نه آغوندي، ځان نه پاکوي او هيڅ ډول اختريز مراسم نه تر سره کوي چې دا کار غلط رواج دی، موږ بايد د دې رواج څخه ځان وساتو.

- همداسي کور ته چې تر اختر مخکي يې مړی سوی وي، په ځينو ځايونو کې د کلي خلک او امام ټول په يووار د فاتحې له پاره ورځي، سره د دې چې د هغه شرعي درې ورځي فاتحه خو مخکي خلاصه سوې وي، دوی هم مخکی تسليت ورکړی وي، خو د اختر په ورځ دا رواج هم هيڅ شرعي ثبوت نه لري او موږ بايد ورڅخه ډډه وکړو، ځکه شرعًا تر درو ورځو اضافه مصيبت په اسلام کې نسته، دا چې څو مياشتي يا اوونۍ وروسته دوی ورځي، بيرته يې مصيبت را تازه کوي، دا خپله يو غير شرعي عمل دی.

د اختر د ورځي آداب:

د دې مبارکي ورځي د آدابو د پر ځای کولو له پاره بايد مسلمان مخکي تر دې چې د لمانځه له پاره عيدګاه ته ولاړ سي، غسل وکړي، ښه کالي واغوندي، عطر وکاروي او د اختري تر حلالولو پوري دې ځان د خوراک څخه وساتي.

په دې ورځو کي بايد مسلمان خپل اړ او نادار ګاونډيان هېر نه کړي، ځکه چې په دې ورځو کي نفلي صدقې ډېر ثواب لري.

کله چې عيدګاه ته ځي، تکبيرونه دي نه هېروي، پر يوې لاري دي ولاړ سي او پر بلي لاري دي بيرته خپل کور ته راسي، په لوی اختر کي دي عيدګاه ته تر تللو مخکي هيڅ شی نه خوري، بلکي د خپل اختري تر حلالولو پوري دي صبر وکړي کله چې يې اختری حلال کړ، خپل امساک دي د اختري په غوښو باندي مات کړي.

د عيدګاه تر لمانځه وروسته چې کله له خپل مسلمان ورور سره مخامخ کېږي، د ځان او د خپل مسلمان ورور د عبادتونو د قبوليت دعا دي وکړي، ځکه په صحابه وو کي دا رواج و، چي د اختر په ورځ به دوی سره مخامخ کېدل، نو يو او بل ته به يې ويل: تقبل الله منا ومنکم صالح اعمالنا.

ژباړه: الله پاک دي زموږ او ستاسو نېک عملونه قبول کړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لارښوونو پراساس، بايد هر مسلمان نور مسلمانان د خير کارونو ته تشويق کړي او د بدو کارونو څخه يې را وګرځوي.

کله چې د عيدګاه څخه کور ته راسي، خپل اختری دي حلال کړي، د اختري په حلالولو کي ښه خبره دا ده چې خپله يې حلال کړي، که يې خپله نه سو حلالولای، بل څوک دي ورته حلال کړي، خو خپله دي ورته ودرېږي.

د اختري په غوښو کي سنت طريقه داده چې غوښې يې درې برخې سي، يوه برخه يې خپله وخوري، بله برخه يې خپلو اړو خپلوانو ته ورکړي او درېيمه برخه دې بې ګانه مسکينانو ته ورکړي.

اختر د چا له پاره دی؟

يو څوک د اختر په ورځ د حضرت علي رضي الله عنه کور ته ځي، که ګوري چې مخته يې ارزان قيمته او عادي خواړه ايښي دي، دا سړی ورته وايي: ای علي (رضي الله عنه!) د اختر ورځ ده، خو ته د ارزان قيمته خوړو څخه استفاده کوې؟

حضرت علي رضي الله عنه ورته فرمايي:

ژباړه: اختر د هغه چا له پاره نه دی چې نوي کالي واغوندي، بلکي اختر د هغه چا له پاره دی چې ډېر طاعت او بندګي وکړي.

ژباړه: اختر د هغه چا له پاره نه دی چې ډېر درهمونه او دنانير لاسته راوړي، بلکي اختر د هغه چا له پاره دی چې د عزيز او غفار الله تعالی اطاعت وکړي.

د هغو خلکو له پاره دي خوشحالي او مبارکي وي چې د ذوالحجې په نورو ورځو کي يې عبادت کړی وي، له مسکينانو او فقيرانو سره يې مرسته کړې وي او پوره تقوی يې لاسته راوړې وي، ځکه اصلي اختر هم د دوی له پاره دی.

د اختر د ورځي پيغام:

د اختر ورځ د مسلمانانو له پاره د يووالي او اتحاد د ثابتوالي ورځ ده، د اختر ورځ د توبې او مغفرت ورځ ده، د اختر ورځ د نورو اړو مسلمانانو د حاجت پوره کولو ورځ ده.

دې ته بايد تل ډېره پاملرنه ولرو چې مسلمانان بايد همېشه د دښمنانو په مقابل کي خپل يووالی او اتفاق په ثبوت ورسوي، په ځانګړې توګه: په داسي ورځو کي چې د اجرت او مزدورۍ ورځي يادېږي، هغه ورځ چې مسلمانان په يو ځای کي په يو امام پسي د اختر لمونځ آدا کوي چې دا خپله پر فکري، عقيدتي او عملي وحدت او يووالي دلالت کوي او د دې ښکارندويي کوي چې مسلمانان د ځايونو، قومونو، رنګونو او ژبو له توپير سره - سره د يوې کورنۍ په شان دي او دا بايد موږ مسلمانان د ځان وظيفه وبولو چې ټوله اوږه پر اوږه په عيدګاه کي په يو امام پسي د اختر لمونځ آدا کړو او بيرته په ډېري خوښۍ او خوشحالۍ سره خپلو کورونو ته ستانه سو.

پای

اووه تباه کوونکي ګناهونه

محمد نبي "سلطاني"

اسلام د انسان د ژوند د سمون او پاکوالي له پاره روښانه اصول او لارښووني وړاندي کړي دي. په دې لارښوونو کي د نېکيو ترڅنګ، له بديو د ځان ساتلو ټينګار هم سوی دی.

ځيني ګناهونه داسي دي چې نه يوازي فردي زيان لري، بلکي ټولنه هم له فساد سره مخ کوي. همدې ته په کتو سره رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو سترو ګناهونو يادونه کړې چې د "اوو تباه کوونکو" په نوم يادېږي. دا ګناهونه د انسان د هلاکت او د الله تعالی د غضب سبب ګرځي.

له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

ژباړه: "د اوو تباه کوونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ!" صحابه کرامو وپوښتل: يا رسول الله! هغه کوم دي؟ و يې فرمايل: له الله سره شرک کول، بخل او حرص، د هغه انسان وژل چې الله يې وژل حرام کړي وي، مګر په حقه، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول (تېښتېدل) او د پاکو، بې ګناه مؤمنو ښځو تورنول.

لومړی او تر ټولو ستره ګناه له الله تعالی سره شرک کول دي، ځکه چې دا د توحيد اصل له منځه وړي او د انسان عقيده فاسدوي. بخل او حرص د انسان اخلاق خرابوي او ټولنيز عدالت ته زيان رسوي. د بې ګناه انسان وژل يو ستر جرم دی، چې د ټولني امنيت له منځه وړي. سود خوړل اقتصادي ظلم دی، چې د خلکو تر منځ نابرابري زياتوي. د يتيم مال خوړل، د کمزورو پر حقونو تېری دی. همدارنګه د جګړې په ورځ تېښته کول، د مسئوليت نه منل ښيي او د پاکو ښځو تورنول، د ټولني اخلاقي بنسټونه زيانمنوي.

اسلام د انسان د فردي او ټولنيز ژوند د اصلاح له پاره واضح اصول وړاندي کړي دي. د اوو تباه کوونکو ګناهونو څخه ځان ساتل، د هر مسلمان له پاره ضروري دي، ځکه چې دا نه يوازي د الله تعالی د غضب سبب ګرځي، بلکي د ټولني نظم او اخلاق هم زيانمنوي. که انسان له دې ګناهونو ځان وساتي او د نېکيو لار خپله کړي، نو کولای سي چې هم په دنيا او هم په آخرت کي بريالی سي.

د تقلید شرعي حکم

پوهیالی عبدالله خان "سنګري" — څلورمه برخه

لنډه دا چې په عقیدو کې تقلید هیڅکله جائز نه دی، ځکه الله جل جلاله په عقیده کې د تقلید کوونکو غندنه کړې ده او د سورة البقرة په ۱۷۰ نمبر آیت کې یې فرمایلي یې دي:

ژباړه: او کله چې هغوی ته ویل کېږي چې هغه قانون ته راسئ چې الله نازل کړی دی او د پیغمبر خوا ته راسئ، نو هغوی په جواب کې وایي: چې زموږ له پاره خو یوازي هماغه کړنلاره بس ده، چې پر هغې باندي موږ خپل پلرونه او نیکونه موندلي دي، آیا دوی د پلرونو او نیکونو څخه تقلید کوي، که څه هم چې په هغوی هیڅ و نه پوهېږي او د سمي لاري څخه هیڅ خبر هم نه وي.

ب – په فرعي مسائلو کې د تقلید حکم:

هغه فرعي عملي قضیې او حوادث چې په ظني دلیل سره ثابت وي، د تقلید د صحت او عدم صحت په اړه یې علماء کرام لاندي نظرونه لري:

۱ – ظاهریه، معتزله او د امامیه څخه یوه ډله: دوی په دې آند دي چې په فرعي مسائلو کې اجتهاد واجب او تقلید روا نه دی. دوی زیاتوي چې پر هر مکلف باندي واجب دي، ترڅو د خپل دین د امورو په اړه د ځان له پاره سعیه او هڅه وکړي او په هغه څه باندي عمل وکړي، چې د ده اجتهاد ورته رسېدلی وي.

ابن حزم رحمه الله ویلي:

ژباړه: تقلید حرام دی، هیچا روا نه دی چې د بل چا قول باندي تقلید وکړی او بې له رسول الله صلی الله علیه وسلم بې له دلیله.

(هیئه الکبارالعلماء، ۲۰۰۸م)

الله جل جلاله د سورة الاعراف په درېیم نمبر آیت کې فرمایلي دي:

ژباړه: اې خلکو د هغه شي پیروي وکړئ، کوم چې ستاسې د رب له لوري تاسې ته نازل سوی او د خپل رب څخه پرته د نورو سرپرستانو پیروي مه کوئ، خو تاسو نصیحت ډېر لږ منئ!

تقلید حرام دی، هیچا ته روا نه ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول پرته، د بل شخص پر قول باندي بې له دلیله عمل وکړي.

ابن عربي ویلي: زموږ په نزد د الله تعالی په دین کې تقلید جواز نه لري، که هغه د مړه شخص وي او یا د ژوندي. هر کله چې یو کس د عالم څخه د یوې مسئلې پوښتنه کوي، ورباندي لازم دي چې ووایي: په دې مسئله کې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم څه دي؟

(زحیلي، ۲۰۰۵م)

۲ – حشویه او تعلیمیه د تقلید په اړه داسې نظر لري: د مجتهدینو علماوو څخه وروسته په مسائلو کې تقلید واجب، اجتهاد او نظر جواز نه لري. د دوی دلایل په لاندي ډول دي:

– د دین په اصولو او فروع کې تدبر او تفکر واجب نه دی، ځکه که تفکر او تدبر واجب وي، نو صحابه کرامو به کړی وای او پر دې باندي به مامور کړی سوي وو، سره له دې چې دوی دا کار نه دی کړی، که یې کړی وای، د فقهي د فرعي مسایلو په شان به موږ ته رانقل سوی وای.

– که چیري د الله تعالی د معرفت په اړه تفکر او نظر واجب وګرځول سي، توقف د شي تر خپل نفس پوري لازمېږي، ځکه د الله تعالی د پېژندلو په اړه د تفکر او نظر واجب والی به موقوف سي، د الله تعالی تر معرفت پوري او د الله تعالی معرفت به تر نظر او تفکر پوري موقوف سي او توقف د شي تر خپل نفس پوري صحت نه لري.

زحیلي، ۲۰۰۵)

۳ – د څلورو مذهبونو د ډېرو پیروانو نظر د تقلید په اړه تفصیلي دی:

دوی په دې آند دي، چې اجتهاد جایز او تقلید د مجتهد له پاره حرام دی، په امي او هغه عالم چې د اجتهاد اهلیت و نه لري واجب دی. د دې مذهب دلائل په لاندي ډول دي:

–الله جل جلاله د سورة النحل په ۴۳ آیت کې فرمایلي دي:

ژباړه: له باخبرو خلکو څخه پوښتنه وکړئ، که تاسې په خپله نه پوهېږئ!

الله جل جلاله هغه چا ته چې نه پوهېږي، امر کړی چې د هغه چا څخه پوښتنه وکړي، چې د ده څخه پوه وي.

په آیت شریف کې د (فسئلوا) کلمه عامه راغلې، یعنی پوښتنه وکړئ، پوه سئ او مقلد په اصل کې په یوه یا څو مسئلو کې د شرعي حکم په اړوند، پوښتنه کوي، نو په دې اساس آیت د تقلید پر جواز دلالت کوي.

(النبهاني، ۲۰۰۳م)

ژباړه: موږ په یو سفر کې وو، چې یو سړی په ډبره باندي په سر کې زخمي سو، بیا شیطان تېر ایستی، نو یې د خپلو ملګرو څخه وپوښتل چې آیا زه تیمم کولای سم؟ دوی وویل: موږ ستا له پاره په دې کې رخصت نه وینو او ته پر دې قادر یې، چې غسل وکړې، غسل یې وکړ او مړ سو. کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلو او په دې خبره مو خبر کړ، و یې فرمایل: دوی مړ کړ، الله تعالی دي ورته جزاء ورکړي. پوه سئ! هغوی که نه پوهېدل، نو پوښتنه به یې کولای او د ناپوهۍ علاج پوښتنه ده. دومره ورته کافي وه، چې خپل سر یې په یوه ټوټه پوښلی وای او پر هغې یې مسحه کړې وای او نور ټول بدن یې پرېولی وای. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د شرعي حکم په باره کې د پوښتني سپارښتنه وکړه.

(السجستاني، ۲۰۰۹م)

د شعبي څخه صحیح روایت دی چې وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم شپږو اصحابو کرامو به خلکو ته فتوی ورکوله او درو به درو ته خپل قول پرېښود. دا هم پر دې دلالت کوي، چې مسلمانانو به د اصحاب کرامو تقلید کاوه او ځینو نورو به د ځینو نورو تقلید کاوه.

(النبهاني، ۲۰۰۳م)

د صحابه کرامو او تابعینو (رضوان الله علیهم اجمعین) اجماع هم په فرعي مسائلو کې د تقلید پر مشروعیت باندي دلالت کوي، ځکه کله به چې عوامو د دوی څخه د یوې حادثې په اړه پوښتنه وکړه، دوی به فتوی ورکوله او د پوښتني څخه یې هیڅوک نه منع کول او دا په تواتر سره ثابته ده چې چا ته یې په اجتهاد کولو باندي هم امر نه کاوه. (زحیلي، ۲۰۰۵م)

نور بیا...

آیا شخصي کاروبار دي یوازي بې سواده کسان وکړي؟

نعمت الله شاکر



که کوم باسواده کس شخصي کاروبار کاوه، د فېسبوک شبکې کاروونکي یې تصویر نشروي، چې افسوس! دادی فلانی اوس فلانی دوکانداري یا کسب کوي.

نه دا اصل او قانون سته، چې شخصي کاروبار دي یوازي بې سواده کسان وکړي او نه دا قانون او اصل سته، چې علم او تحصیل دي د رسمي وظیفې له پاره وسي.

علم او تحصیل د خپل ځان، کورنۍ، ټولني او ملت د حقوقو او وجائبو پېژندلو له پاره حاصلېږي، ترڅو د ژوند چاري په ښه نظم او مهارت سره تر سره سي.

د پرمختللي نړۍ د ولسونو د بریا راز دادی، چې د هر قشر او مسلک خلک زده کړې او تحصیل کوي.

موږ باید دا فکر لیري کړو چې زراعت، صنعت، کسب، دوکانداري... بې سواده کسان کوي.

که فکر وکړو، هیڅ کار او مسلک عادي نه دی. هر کسب او مسلک چې د علمي کسانو لاس ته ولوېږي، هغه یې د بې سواده شخص په نسبت، په لوړ کیفیت او حیثیت سره اجرا کولای سي.

که د نړۍ زراعت ته وګورو، وینو چې باسواده کسان د زراعت عالي ټکنالوژي کاروي، که یې صنعت ته وګورو، هم دغه خبره ده.

یادونه: د وظیفې او تحصیل تر منځ، عموم او خصوص من وجه مناسبت سته.

یعني هر کس چې ګمارل کېږي، هغه باید پوهه، مسلکیت او تجربه ولري، خو حتمي نه ده، چې هر پوه او مسلکي کس دي رسمي وظیفه ولري.

خېل او وېش (کتاب پېژندنه)

محمد هارون "صمیم"

خېل او وېش د کاندید اکاډیمېسن محمدابراهیم عطایي اتنولوجیکي څېړنیز اثر دی، چې لومړی ځل په ۱۳۶۰ل کال په کابل او اوس د دوهم ځل له پاره په پېښور کې د کتاب کور له خوا چاپ او خپور سو.

عطایي په قبیلوي جوړښتونو کې د دقیقي او پراخي مطالعې خاوند او لیکوال دی، چې په دې اړه یې ښه ډېر غنیمت آثار پرې ایښي دي.

نومړی د پښتو له ولسي کیسو، داستانونو، افسانو او حماسو څخه د پښتني عناصرو په استخراج او کشفولو کې یوازنی لیکوال دی، چې ښه زورور قلم په دې اړه چلولی دی.

هیله ده چې دا اثر به په پېښور او پښتونخوا کې د پښتو ژبې د عامولو او پښتو آثارو په نشرولو کې اغېزمن او ګټور تمام سي.

شعري برخه
د طلوع رنګیني وړانګې

غزل

عصمت الله "څاروان"

له عقله لیري د لېوانه تصور
کوي کمزوری زمانه تصور
***
په ځان سو دومره بې باوره ولې
ولې تقلید کړو بېګانه تصور
***
دغه په نوم باندي بې شماره سړو
کاش چې لرلای مردانه تصور
***
د حارص سترګې دومره وږي وي چې
کړي په هر شي کې خزانه تصور
***
افسوس د ژوند، مرګ او د ژوند په اړه
څومره ده زموږ کافرانه تصور
***
کله له بلې زاویې **"څاروانه!"**
مه کړه تنها شاعرانه تصور

غزل

حبیب الله "قلم مل"

ډک د مینې مل سړی
غله ته ښکاري غل سړی
***
ستا له پاره خوځند دی
خیر که څه وي شل سړی
***
هغه صورتمند ګوره!
ستا په غم سو نل سړی
***
تېری د قدرت نه دی
نه کوي یرغل سړی
***
څوک چې پر مختګ کوي
نه وي لکه پل سړی
***
چا زما پشلاویل
نه دی **"قلم مل"** سړی

غزل

احمد "بریالی"

که هر څه غاړه تازه کړي و دعوې ته
فرسخونه د ژوند پاته دي وعدې ته
***
فولادي سوکونه غواړي پر غاښو چې
په لاریون خبره نه ځي فیصلې ته
***
څومره وزن د اخلاص به و موجود چې
څوک حیران سي د عدولو سلسلې ته
***
فهم غواړي د دنیا پر اوږو ژوند چې
مرګ نامرده سړی نه پرېږدي توبې ته
***
بختور وي هر زمان صالحان ټول چې
له بد قرضه غاړه خلاصه کړي روژې ته
***
کتابچه د نیت صفا کړي له زیاتیه
بیا په عذر احرام واغوندي عمرې ته
***
له تقدیره وي لایق د صدقې چې
خپل بدن د ختوور کړي صدقې ته
***
پر ادرس څه **"بریالی احمده!"** ژوند کې
بې ادرسه سړی لوېږي معضلې ته

مسـئول مـدير: ـــــــ بـريـالــی "فـيـضي"
د تصـحيح مسئـول: ـــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمـپوز او ډيـزاين: ـــــــ نصير احمـد "صـابر"
د مـديريت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتـه: ـــــــ علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: ـــــــ baryafaiz981@gmail.com

د ګڼون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمريزکال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاني يو بشپړ کلکسيون ولرئ، په طلوع افغان ورځپانه کي ګډون وکړئ.

د ګـډون کلنی بيـه ۵۰۰- پنځـه سـوه افغـانۍ، زده کوونکـو او محصلينو تـه د تصـديق په وړانـدي کولـو سـره نيمـه بيـه ټاکل سوې ده. اداره



طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue:10 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

د ورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د مجيب الرحمن د حبيب الرحمن زوی او د خدايداد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 07014953561

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رحمت الله رحماني د حاجي عبدالرحمن رحماني د زوی او د غلام محمد خان د لمسي په نامـه ده، ورکـه سوې ده، هـر چا کـه پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700861494

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نذير احمد د نثار احمد د زوی او د ګل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707712258

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نذير احمد کاکړ د عطا محمد د زوی او د حاجي امير محمد کاکړ د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، پـه دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702767375

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د رفيع الله د سخي داد د زوی او د راز محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708624308

❋❋❋

يـوه قطعـه برېښـنايي تـذکره چـي د محمـد طيـب د عبـدالرحمن د زوی او د حبيـب الرحمن د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707454816

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چـي د ثنـاءالله د عبـدالمنان د زوی او د حـاجي عبيـدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0775363692

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د غمی سلېمان د سردار محمد خان د زوی او د صاحل محمد خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيـداکړې وي، پـه دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700356150

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د ګل احمد قادري د عبدالاحد د زوی او د حاجي جمعه خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيـداکړې وي، پـه دې ذکـر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706516898

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د نصير احمد د جانان د زوی او د نظر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707112600

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د خليل احمد د محمد حامد د زوی او د سردار محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704407532

❋❋❋

يـوه قطعـه برېښـنايي بـانکي کـارډ چـي عبـدالظاهر هوتـک د عبـدالودود د زوی او د عبدالرؤف د لمسي په نامه دی، ورک سوی دی، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکـر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700493981

❋❋❋

يوه پاڼه د مهاجر فورمه چي اسلم شاه د محمد شاه د زوی او د شادولا د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هـر چـا کـه پيـداکړې وي، پـه دې ذکـر سـوې شـمېره دي تمـاس ونيسي: 0703781962

❋❋❋

يوه پاڼه د مهاجرت فورمه چي د عيسی محمد د يار محمد د زوی او د حق داد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 070488584

د اعتبار وړ نه دی

وطن ستاړ لميټيډ د (2211- 24) شمېرې جواز درلودونکی، چي رئـيس يـې احمـد د سعدالله زوی او مرستيال يې عبدالحکيم حکيمي د عبدالمجيد زوی دی، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه دی.

اعتبار نه لري

بـارک يـونين سـتاړ لوجيسـتيک شـرکت سـرويزيس، د (D-04-901) شـمېرې جـواز درلودونکی، چي رئيس يې عزيـز الله د محمـد صـادق خـان زوی دی، ورک سـوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

(۱) مخ پاته: په کندهار کي د انارګل دوديزه...

د هغه په قول، په شعرونو کي بايد يوې خاصي سيمي، قوم يا ډلي ته خدمت و نه سي، بلکي لوړو ملي او اسلامي مصالحو ته لومړيتوب ورکړل سي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير د مشاعرې د ښه تنظيم له امله، د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست هڅې وستايلې او مننه يې وکړه چي دغه آدبي غونډه يې جوړه کړې ده.

د مشاعرې په وروستيو شېبو کي د کندهار والي وينا وکړه او ويې ويل، لومړی يې د هيواد د بېلابېلو ولايتونو څخه راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست ووايه او ويې ويل، اوسنۍ راټولېدني او غونډې د خير او خوښۍ له پاره کېږي او د الله تعالی په فضل د څـه بانـدي څلـورو لسـيزو ستونزي حل سوي دي، چي شکر يې بايد ادا کړو.

په انارګل مشاعره کي د کنـدهار ولايـت د علمـاوو شـورا غړي شـيخ الحـديث عبـدالهادي ابوالخالد شاعرانو، ترنم ويونکو او ليکوالانو ته توصيه وکړه چي په خپل شعر او قلـم سـره مسلمانان د اسلامي نظام ملاتړ ته وهڅوي.

په دې ستره او پرتمينه مشاعره کي د هيواد مشهورو شاعرانو او ترنم ويونکو خپل چمتـو کړي اشعار ګډونوالو ته په ښکلو آوازونو کي وړاندي کړل، چي د ګډونوالو آدبـي تنـده يـې خړوبه کړه او انارګل مشاعرې ته يې لا ډېره ښکلا ور وبخښله.

سږ کال په انارګل مشاعره کي يو نوی نوښت دا و چي مهم پيغامونه، د شاعرانو شعرونه او د ترنم ويونکو انتخابي اشعار، د شعري ټولګي په بڼه چاپ او د غونډې ګډونوالو، مسئولينو او د آدب مينه والو ته ووېشل سوه.

د دغه نوښت موخه د آدبـي آثـارو خونـدي کـول، د شـاعرانو او ليکوالانـو د آثـارو تـرويج او راتلونکو نسلونو ته د فرهنګي ميراث انتقال دی.

د يادوني وړ ده چي انارګل مشاعره، د هيـواد لـه مشـهورو فرهنګـي او آدبـي غونـډو څخـه شمېرل کېږي، چي هر کال د ګڼ شمېر شاعرانو، ليکوالانو، فرهنګپالو او آدب مينه والو په ګډون تر سره کېږي.

دغه مشاعره نه يوازي د اسلامي ارزښتونو په دفـاع، د عاليقـدر اميرالمـؤمنين حفظـه الله تعالی د فرامينو پـه تشـريح، د اصـلاحي پيغـامونو پـه رسـولو او د آدب او شـاعرۍ پـه وده، پياوړتيا او معياري کېدو کي مهمه ونډه لري، بلکي د فرهنګي يووالي، آدبي تبادلې او ولسي آدبياتو د شريکولو يو اغېزناک ډګر هم بلل کېږي.

په آخر کي د انارګل مشاعره د امان الله مستغفر په اختتاميه دعا پای ته ورسېدله.

(۱) مخ پاته: په لومړي وار د سترګو د جراحي...

خدماتو زمينه برابره سي.

د مستشفی عمر تدريسي روغتون رئيس ډاکټر محمد حسن طاهر د عامه پوهاوي او اړيکو آمريت سره د مرکې پر مهال ويلي: د سترګو دغه جراحي خونه، پـه عصـري ډول جوړه سوې، په اړينو طبـي تخنيکـي وسـايلو او تجهيزاتـو سـمبال ده، چـي د سترګو متخصصان ډاکټران به په کښي د سترګو اړوند، د بېلابېلو ناروغيو جراحي عمليات و نه کوي.

د هغه په قول، د دې خوني په فعالېدو سره به، ناروغان اړ نه وي، چي د درملني له پاره له ولايته د باندي سفر وکړي. کولای سي، چي په خپل ولايت کي د خپلو سترګو د بېلابېلو ناروغيو درملنه د مستشفی عمر تدريسي روغتون په سترګو څانګه کي وکړي.

د ډاکټر طاهر په خبره، د روغتون اداره د پوهنتون له رهبرۍ سره په همږغۍ هڅه کوي، ترڅو په راتلونکي کي نوري تخصصي څانګي هم پياوړې کړي او د عصري طبي خدماتو د وړاندي کولو تر څنګ، د محصلانو له پاره د عملي او تدريسي زده کړو زمينه نوره هم پراخه کړي، څو محصلان په ښه توګه مسلکي روزنـه ترلاسـه کـړي او هـم د ټولني د روغتيـايي وضعيت په ښه والي کي مثبت بدلون رامنځ ته سي.

(۱) مخ پاته: افغانستان په ځنګلونو کي...

د ځنګلونو په پوښـښ کـي تـر ټولـو ډېـر زيـاتوالی پـه پکتيـا، خوسـت، بدخشـان، بغـلان، بادغيس، ننګرهار، کنړ، هرات او لغمان ولايتونو کي راغلی دی.

نورستان ولايت د ۲۷۴ زره هکتاره ځنګلونو په لرلو سره د هيواد په کچه تـر ټولـو ډېر ځنګلونه لـري او ورپسـې کنـړ ۲۵۳ زره هکتـاره، بـادغيس ۱۸۰زره هکتـاره، پکتيـا ۱۷۰زره هکتـاره، خوسـت ۱۲۸ زره هکتـاره او پکتيکـا ۱۱۹زره هکتـاره ځنګلونه لري.

تر ټولو کم ځنګلونه کندهار، فراه او هلمند ولايتونه لري چي يوازي زر هکتاره خاوره يـې پوښلې ده.

غزني، زابل، نيمروز، روزګان، بلخ، ميدان وردګ، سمنګان، غزني، جوزجان، باميان او پروان هغه ولايتونه چي ځنګلونه نه لري يا ډېر کم دي.

ځنګلونه پر درو برخو وېشل سوي دي:

ګڼ ځنګلونه: ۱۱۸۸۶۸هکتاره (زياتره د هيواد په ختيځ کي)

متوسط ګڼ ځنګلونه: ۱۱۷۳۱۷۴هکتاره (دا د هيواد د ځنګلونو تر ټولو لويه برخه ده)

نا مشخص پرانيستي ځنګلونه: ۳۴۴۴۳۱هکتاره (زيات مثمر ځنګلونه دي لکه: پسته.)

(۱) مخ پاته: په تېره مياشت کي ناروغانو ته...

روغتونونو ته ورپېژندل سوي، ترڅو داړتيا پر مهال له ناروغانو سره بېړنۍ مرسته وکړي.

يادو رضاکارو ځوانانو د ميرويس حوزوي، د عينو مېني ۳۵۰ بستريز، مهمنـد نـرۍوال، سيال، سيدال روغتونونه او يو شمېر نورو روغتونونو له ناروغانو سره د ويني د کمښت پر مهال مرسته کړې ده.

د يادوني وړ ده، چي د ياد آمريت له لوري وخت ناوخت د عامه پوهاوي، ټولنيزو همکاريو او بشري مرستو په موخه، ورته رضاکارانه کمپاينونه هم تر سره کېږي.

ټولنيزي رسنۍ

صديق الله "افغان":

کله چي په يوه ټولنه کي بد اخلاقۍ، سپکي خبـري، چيغـي، نـارې، پسـخند وهـل او بې نزاکتي تفريح او ساعتېرۍ وګڼل سي، نو کـرار – کـرار د احتـرام، حيـا او ښـه چلنـد ارزښتونه کمزوري کېږي.

پخوا به په کور کي ماشوم ته د آدب، خبرو او چلند درس ورکول کېدی، خو اوس دا برخه کمه سوې ده.

په ټولنيزو رسـنيو او ځينـو ويډيوګانو کـي سپکي خبري او بې آدبي د خندا او شـهرت سبب ګرځي، نو خلک يې نقل کوي.

که په کوځه، بازار او کوټه کي دا ډول چلنـد عادي سي، نور کسان هم ورته عادت کېږي.

کله چـي مشـران، علمـاء کـرام، اسـتادان او مخـور خپـل رول او ازښـت هېـر کـړي، نـو ځوانان هم لاره ورکه کړي.

ډاکټر بخت الله "بختيار":

کوچني عادتونه؛ لوی بدلونونه جوړوي!

لاندني عادتونه په کوم ځای کي يادداښـت کړئ او هره ورځ يې عملي کـړئ، دا طريقـه مرسته کوي چي هره ورځ پرمختګ وکـړئ او صحتمند اوسئ:

۱ – بدني:

خـوب، د بـدن اوبـه پـوره کـول، حرکـت او ورزش، مزل (پياده‌روی)، د تنفس تمرين، زيات سبزيجات.

۲– ذهني:

مطالعه، ځـان پېژندنـه، مسـئوليت، هـدف ټاکنه، مراقبه، مثبتي جملې.

۳–احساسي:

د سټريس کمول، شکر ايستل، له ځان سره وخت تېرول،

ژورنـال ليکـل، سـاعتېري (سـرګرمي)، د سروتونين کچه لوړول.

۴– ټولنيز:

معاشرت، د کورنۍ له پاره وخت، ټولنيزي اړيکي

ګروپي ورزشـونه، پـه حـال کـي حضـور، لـه نورو سره مهرباني.

۵–روغتيا:

ويټامين او مکملونه، د بورې کمول، صحي خواړه،

طبـي معاينـه، شخصـي نظافـت، ناوختـه ډوډۍ نه خوړل.

۶–ورځني عادتونه (روټين):

ژر ويښـېدل، د سـهار او ماښـام روټـين، د پوست پاملرنه،

د خوړو پلان، د لګښتونو تعقيب، پاکوالي.

نصير احمد "پتمل":

ښه پردې دنيا کوه؛ مرګ نابللی مېلمه دی!